# د CVRA د ناستي پاڼي مينځپانګه

په ايالت کي لکه د نورو ډيرو ښارونو او ښوونځي ولسواليو، د سان جوان يونيفايډ ښوونځي ولسوالي ( San Juan Unified School District) دفتر ته د ښووني بورډ د غړو د ټاکلو څرنګوالي پروسه د "پراخه" ټاکنو څخه "د معتمد اړوند ساحي" ټاکنو ته بدلولو په حال کي ده.

دا پروسه اصلاً د 2020 مارچ کي پيل شوي وه، چي د والي نيوسوم لخوا د اجرايوي امر سره تطابق لپاره ودرول شوه کوم چي د کوويډ-19 وبا له امله د ټولني روغتيا او خونديتوب محافظت کي د مرستي لپاره دا ډول فعاليتونه د لنډمهال لپاره ځنډولي و. د دغه اجرايوي امر نيټه د جون 30 نه وروسته پای ته رسيدو سره به ولسوالی پروسه بيرته پيل کړي.

**پراخه پرورانديز د معتمد اړوند ساحه**
اوسمهال، په سان جوان يونيفايډ (San Juan Unified) کي د بورډ غړي په ولسوالی کي د ټولو رايه ورکونکو لخوا ټاکل کيږي. دا د "پراخه" ټاکنو په توګه پيژندل کيږي. کله چي د ټاکنو لپاره د بورډ ډير سيټونه وي، رايه ورکونکي د رايه ورکولو پرمهال د سيالي کونکي نوماندانو څخه څو يې انتخابوي.

کله چي ټاکني د "معتمد اړوند ساحي" له لارې وشي، نو ولسوالی په کوچنيو برخو ويشل کيږي او د ولسوالی اړوند ټاکلي ساحي د بورډ استازيتوب سيټ لپاره نوماندان بايد د ولسوالی په همدغه ټاکلي ساحه کي ميشت وي. رايه ورکونکي د هغو نوماندانو له ډلي څخه يو نوماند انتخابوي چي په ولسوالۍ کي د هغوی د ساحي استازيتوب کوي او د ولسوالی د نورو ساحو استازيتوب کونکي سيټونو کي رايه نه ورکوي.

**د معتمد ساحو ټاکل**
د معتمد ساحي بايد په اټکليز ډول د اوسيدونکو د شمير له مخي په يوه اندازه وي. د سر شميرني موجود ډيټا په کارولو سره، د سر شميرني متخصص داسي نقشي جوړوي چي د هري ساحي اندازه د اړتياو او شرايطو سره توازن ولري او ډاډ لاسته راشي چي د رايه کونکو محافظت شوي ټولګي پداسي ډول ونه ويشل شي چي د هغوی لپاره د خپلي خوښي نوماندانو غوره کول لاډير مشکل کړي يا د ټاکنو پايله باندي اغيزه ولري. پدې محدوده کي، د سر شميرني متخصص ممکن ځايی شرايط هم په پام کي ونيسي لکه ستر سړکونه، طبيعي خنډونه يا موانع، او نور عاملونه.

**د معتمد ساحي د نقشي انتخابونه**
د ولسوالی د سر شميرني متخصص د جولای په 1 نيټه تنظيم شوي د بورډ ځانګړي ناستي وروسته نقشي جوړوي. د پيش ليک په بڼه چمتو شوې نقشي به د عامه بياکتني او تبصرو لپاره تر جولای 6 پورې خپرې شي.

که چيرې بورډ د لومړيو نقشو اړوند د سمونونو غوښتنه وکړي، دغه سمونونه به د عامه بياکتني او تبصرو لپاره تر جولای 20 پورې خپاره شي.

**د خپل غږ شريکول**
د وړاندي شوي نقشو په اړه د خپل فيډبيک شريکولو لپاره د ټولني د غړو لپاره ډيری فرصتونه او لارې چارې شتون لري.

بورډ به د 2021 جولای په 1، جولای په 13 او جولای په 27 ځانګړي ناستي وکړي چي عامه اوريدا پکي شامل دي. د ټولني هر غړی کولی شي پدغه ناستو کي په دوه دقيقو کي خپل نظر بيان کړي يا هم ليکلی نظر وسپاري.

د جولای په 14 او جولای په 15، به ولسوالی د ولسوالی په دري موقعيتونو کي ناستي وکړي او همدارنګه آنلاين هم، چي فرصت وړاندي کوي د پروسي په اړه ډير معلومات ترلاسه کړئ، وړانديز شوي نقشي بياکتنه کړئ او فيډبيک ورکړئ چي د ملاحظه کولو لپاره به د بورډ سره شريک شي.

د ټولني غړي همدارنګه کولی شي د دي فورمي په کارولو سره د پروسي په اوږدو کي هرکله ليکلی فيډبيک وسپاري.